BZA

# د منطقه بندۍ د غوښتنلیک د تجدید نظر بورډ


د کایاهوګافالز ښاروالي
د تولني پراختیایي څانګه – د پلان شعبه
2310 Second Street
Cuyahoga Falls, Ohio 44221
330-971-8135
www.cityofcf.com


## د غوښتونکي معلومات او لارښووني (د ریکارډ لپاره یې خوندي کړئ)

جدي سپارښتنه کیږي چې تر غوښتنلیک سپارلو مخکي د پلان څانګي له کارمندانو سره د غوښتنلیک دمخه کنفرانس ولرئ. هیله کیږي ۳۳۰۹۷۱۸۱۳۵ ته زنګ ووهئ چې د پلان جوړونکي سره ملاقات جوړ کړئ.

### د غوښتنلیک سپارلو پروسه

هیله کیږي د سپارلو د وروستۍ نیټي په اړه د زونینګ یا منطقه بندۍ تجدید نظر غوښتنلیک ضرب العجل وګورئ او د اوریدني د مهالویش او نورو اړوندو نیټو لپاره بورډ ته مراجعه وکړئ. چې آنلاین په http://www.cityofcf.com تر لاسه کېدای شي یا د پلان له څانګي سره په اړیکه کي شئ.

کارمندان به سپارل شوي غوښتنلیکونه وګوري چې ډاډ ترلاسه کړي چې ټول اړین توکي او معلومات چمتو شوي. د سپارلو د وروستۍ نیټي په ۳۰ ورځو کي دننه به غوښتونکي ته خبر ورکړل شي چې ایا د غوښتنلیک توکي د منلو وړ دي که نه. که د منلو وړ وي، یو پوسټ کارډ به د تماس کس ته واستول شي چې د غوښتنلیک د منلو نیټه په ګوته کوي او هغه نیټه چې غوښتنلیک د زونینګ اپیلونو اجنډا کي داخل شوی. که غوښتنلیک د منلو وړ نه وي، یو لیک چې نیمګړتیاوي په ګوته کوي غوښتونکي ته لیږل کیږي. د نیمګړتیا لیک به د سپارلو نیټه هم په ګوته کړي. (یادونه: د زونینګ یا منطقه بندۍ اپیل اجنډا په هره ناسته کي تر ۵ توکو پورې محدوده ده؛ له ۵ څخه ډیر بشپړ شوي غوښتنلیکونه به د راتلونکي غونډې لپاره ټاکل کیږي.)

### د منطقه بندۍ نقشي تعدیل او د مشروط زونینګ سند غوښتنلیکونو لپاره خبرتیا او خپراوی

۱. پر ملکیت باندې باید یوه خبرتیا د منطقه بندۍ د تجدید نظر د بورډ د عامه اوریدني تر غونډې اووه (۷) ورځې مخکې خپره شوې وي.
۲. د زونینګ یا منطقه بندۍ د تجدید نظر د بورډ د عامه اوریدني تر غونډې اووه (۷) ورځې وړاندې به د ټولو هغو ملکیتونو مالکانو ته یوه خبرتیا د پوستې له لارې ولیږل شي چې په ۲۰۰ فوټه کې دننه موقعیت لري.

### د زونینګ یا منطقه بندۍ د تجدید نظر د غوښتنلیک بیرته اخېستل

د غوښتنونکي د لیکلي غوښتني له مخې هره غوښتنلیک بیرته اخېستل کېدای شي. که د خبرتیا تر خپراوي مخکې غوښتنلیک بیرته واخېستل شي کېدای شي غوښتونکي ته بیرته تادیه وشي. خو تر هغه وروسته که غوښتنلیک بیرته واخېستل شي، فیس بیرته نه شي تادیه کېدای.

### د منطقه بندۍ د غوښتنلیکونو د بورډ ځنډول

که د عامه اوریدني د چمتوالي لپاره نور وخت ته اړتیا لري، غوښتونکي کولای شي چې د نامعلوم وخت لپاره د غوښتنلیک د ځنډ غوښتنه وکړي. البته په اتومات ډول د ځنډ تضمین نشته، د غوښتونکي استازی باید په اوریدنه کي حاضر وي، حتی که د ځنډ غوښتنه شوې هم وي. د منطقه بندۍ د تجدید نظر بورډ کېدلای شي چې یو غوښتنلیک په دې خاطر هم وځنډوي چې غوښتونکي د طی مراحل د ګامونو په تعقیبولو کي پاتي راشي. که یو غوښتنلیک د غوښتونکي په غوښتنه یا د ټولو طی مراحلو د ګامونو د نه پلي کولو په خاطر وځنډول شي نو یوه نوې عامه خبرتیا به خپریږي چې لګښت به یې د غوښتونکي پر غاړه وي.

 r

# د منطقه بندۍ د غوښتنلیک د تجدید نظر بورډ

د کایاهوګافالز ښاروالي
د ټولني پراختیایي څانګه – د پلان شعبه
2310 Second Street
Cuyahoga Falls, Ohio 44221
330-971-8135
www.cityofcf.com

**د اداري تجدید نظر او توپیر د غوښتنلیکونو لپاره د منطقه بندۍ د تجدید نظر د بورډ عامه اورېدنې**

عامه اورېدنه د منطقه بندۍ د تجدید نظر د بورډ په مخکې ده. د منطقه بندۍ د تجدید نظر د بورډ غونډې د هرې میاشتې پر دویمه او څلورمه چهارشنبه د ماښام پر ۶:۰۰ بجې د کایاهوګا فالز نټاټوریم ودانۍ د ښاروالۍ په شورا کې تر سره کېږي، یا یې وخت او ځای د پلان جوړونې د څانګې له خوا ټاکل کېږي. غوښتونکي یا د غوښتونکي استازی باید په عامه اورېدنه کې حضور ولري. له غوښتونکي یا د غوښتونکي له استازي غوښتنه کېږي چې د خپل وړاندیز پرزنټېشن وړاندې کړي او د منطقه بندۍ د تجدید نظر د بورډ پوښتنو ته ځوابونه ووايي. د پرزنټېشن لوی بصري توکي ممکن وسپارښتل شي. نورو عامه لېوالو غړو ته هم د خبرو فرصت ورکول کېږي. که اختلاف موجود وي، غوښتونکي ته هم د رد لپاره وخت ورکول کېږي. د یوه غوښتنلیک پر سر تر ۳۰ ورځو پورې خبرې دوام کولای شي.

د منطقه بندس د تجدید نظر د غوښتنلیک د بورډ په اړه د لازیاتو معلوماتو لپاره د کایاهوګا فالز د عمومي پراختیایي کوډ برخې ۱۱۱۴.۱۴، ۱۱۱۳.۱۵ او ۱۱۱۳.۱۶ وګورئ.

**د منطقه بندۍ د غوښتنلیک د تجدید نظر بورډ**

د کایاهوګافالز ښاروالي
د ټولني پراختیايي څانګه – د پلان شعبه
2310 Second Street
Cuyahoga Falls, Ohio 44221
330-971-8135
www.cityofcf.com

## د غوښتونکي چیک‌لیست (د خپل ریکارډ لپاره یي خوندي کړئ)

ډاډ تر لاسه کړئ چي لاندې ذکر شوي توکي وګورئ او کله چي خپل غوښتنلیک سپارئ نو ټول د پلي کېدا وړ توکي ورسره یو ځای کړئ. ټول توکي باید په مناسب ډول لېبل شوي او د پېژندلو وړ وي. کارمندان به سپارل شوي توکي وګوري او غوښتنکي ته به د پوسټ له لارې خبر ورکړي چي غوښتنلیک یي د نورې پروسې لپاره ومنل شو که نه. هغه غوښتنلیکونه چي اړوند معلومات او/یا لاسلیکونه نه لري د عامه غونډې یا د کارمندانو د بیا کتني لپاره نه شي ټاکل کېدای. د پروسې په اړه نور جزئیاتي معلومات په ضمیمه "د غوښتونکي معلومات" برخه کي شته. د کوډ حوالې د کایاهوګافالز عمومي پرمختیایي کوډ ته اشاره ده.

### د منطقه بندۍ د تجدید نظر ټول غوښتنلیکونه

- ☐ بشپړ غوښتنلیک. (ټول باید تکمیل شوی وی.)
- ☐ د ملکیت د مالک لاسلیک او د غوښتونکي لاسلیک (که د ملکیت اوسنی مالک نه وي). د ملکیت لپاره د پېرود قرارداد یوه کاپي ممکن د ملکیت مالک د لاسلیک په بدل کي شامل شي، تر هغه چي قرارداد په واضح ډول د غوښتنلیک تصویب د تړون د بیرني حالت په توګه پیژني.
- ☐ اړوند فیس چي د کایاهوګافالز ښاروالی ته د تادیې وړ وي.

### د اداري تجدید نظر غوښتنلیک

| | د حوالې کوډ |
|---|---|
| ☐ د تجدید نظر د ماهیت په اړه د حقایقو بیان، په شمول د پریکړې ماهیت، څنګه دا د اوسنیو مقرراتو پر اساس په غلطۍ کي وه، څنګه غوښتونکی ځورول شوی، او د هر ملاتړي معلوماتو یا شواهدو مشخص لیست یا توضیحات باید وړاندې شي. | برخه 1113.15 |
| ☐ یوه (۱) د کاغذي کاپي او د هر ډول اړوند اسنادو ډیجیټل فایل (pdf) (د ودانۍ لوړوالی، د سایټ پلانونه، او نور). | |

### د توپیر غوښتنلیک

| | د حوالې کوډ |
|---|---|
| ☐ د توپیر د ماهیت په اړه د حقایقو بیان، چي په هغه کي د نا اړیني سختۍ جزیات شامل وي، او منفرد حالت جزئیات ولري یا دا چي دغه توپیر به د ګاونډ په اساسي بڼه کي بدلون نه راولي یا د عمومي پلان په ترلاسه کولو کي به خنډ نه رامنځته کوي یا په ور پورې ملکیتونو کي یا په ګاونډ او سیمه کي منفي بدلون یا خنډ نه رامنځته کوي. | برخه 1113.16 |
| ☐ یوه (۱) د کاغذي کاپي او د هر ډول اړوند اسنادو ډیجیټل فایل (pdf) (د ودانۍ لوړوالی، د سایټ پلانونه، او نور). | |

د کایاهوګافالز ښاروالي
د ټولني پراختیایي څانګه – د پلان شعبه
2310 Second Street
Cuyahoga Falls, Ohio 44221
330-971-8135
www.cityofcf.com


د پروژې نمبر: ________________

# غوښتنلیک

***فورمه باید په انګلیسي ډکه شي***

| **د اړیکو معلومات** | |
|---|---|
| **د غوښتونکي نوم** | |
| د کوڅې ادرس: | |
| ښار/ایالت/زیپ | |
| تلفون شمېره: | |
| بریښنالیک: | |

| | |
|---|---|
| **د غوښتونکي د استازي نوم:** | |
| د اړیکو کس: | |
| د کوڅې ادرس: | |
| ښار/ایالت/زیپ | |
| تلفون شمېره: | |
| بریښنالیک: | |

| | |
|---|---|
| **د مکلیت د خاوند نوم:** | |
| د کوڅې ادرس: | |
| ښار/ایالت/زیپ | |
| تلفون شمېره: | |
| بریښنالیک: | |

# د منطقه بندۍ د غوښتنلیک د تجدید نظر بورډ

د کایاهوګافالز ښاروالي
د ټولني پراختیایي څانګه – د پلان شعبه
2310 Second Street
Cuyahoga Falls, Ohio 44221
330-971-8135
www.cityofcf.com

| د ملکیت مشخصات: | |
|---|---|
| عمومي موقعیت: | |
| ادرس: | |
| د ځمکي نومره (ې): | |
| د مځکي مساحت (مربع فوټه یا اکړه) | |
| د مځکي تاریخچه: | |

| د حقایقو بیان |
|---|
| |

د کایاهوګافالز ښاروالي
د ټولنې پراختیایي څانګه – د پلان شعبه
2310 Second Street
Cuyahoga Falls, Ohio 44221
330-971-8135
www.cityofcf.com


| تصدیقونه | | |
|---|---|---|
| غوښتونکی | لاسلیک | نېټه |
| زه دا تصدیق هم کوم چې په دې غوښتنلیک کې ټول بیانونه رښتیني او بشپړ دي او دا چې زه قانوني حق لرم چې دا غوښتنلیک جوړ کړم او یا د پاس یاد شوي ملکیت اړوند لیکلي وکالتنامه لرم. | | |
| د ملکیت د خاوند اجازتنامه | لاسلیک | نېټه |
| زه د دروغو د جزا له مخې اعلان کوم چې زه د دې ملکیت خاوند یم یا د ملکیت له خاوند څخه د دې غوښتنلیک د ثبتولو لپاره لیکلي واک لرم. زه تصدیق کوم چې ټول سپارل شوي معلومات زما د غوره پوهې او باور سره سم دي. زه پوهېږم چې د سپارل شوي معلوماتو هر ډول غلط بیان ممکن د دې غوښتنلیک هر ډول تصویب باطل کړي. | | |

| د شعبې د کاروني لپاره | |
|---|---|
| د دوسیې شمېره: | |
| د غوښتنلیک د ترلاسه کولو نېټه: | |
| منل شوی اندازه پیسې: | |
| د غوښتنلیک د منل کېدو نېټه: | |